# بل یی

# څول

# کولے شی ؟

# د مړی را ژوندی کول؟

یو رهبر عیسیٰ ته ووئیل:” اوس اوس می لور مړه شوه خو
راشه او خپل لاس پری کیږده او هغه به ژوندئ شی.“ عیسیٰ
پاڅیدو، ورسره روان شو او مریدان ورپسی راون شول. کله
چه عیسیٰ د سردار کور ته راغے او شپیلئ غږونکی او شور
کونکی ډېر خلق یی ناقلاره ولیدل، نو هغۀ ووئیل چه”په
ډډه شئ ، جینئ مړه نۀ ده، هغه اوده ده.“ او هغوی ور
پوری خندا وکړه. خو څۀ وخت چه ټول خلق بهر کړے شول
نو هغه کوټې ته ننوتو او جینئ یی د لاسه ونیوه او هغه
پاڅیده.دا قیصه په ټول ملک کښې خوره شوه.

(متی ٩: ١٨- ١٩ ، ٢٣ – ٢٦)

# په اوبو باندی ګرځيدل؟

کِشتۍ په اوبو کښی لری وتی وه او هغه په وچه يک يواځی وو. عيسیٰ وليدل چه هغوی په چپو وهلو عذابيږی ځکه چه باد مخالف وو او عيسیٰ قريباً د شپی څلورم پهر د اوبو دپاسه د هغوی په لور روان شو . هغه په هغوی تيريدو چه د هغوی پری نظر شو چه د اوبو دپاسه روان دے، نو ويی ګڼل چه دا ګنی پيرے دے نو چغی يی کړی . ځکه چه هغوی ټولو دے وليدلو او ويری واخستل.

خو سمدستی يی ورته ووئيل چه ''زړونه کلک کړئ! دا زهٔ يم، ويره مهٔ کوئ.''بيا هغه د هغوی سره کشتۍ ته وختلو او باد بند شو.په دِ هغوی بيخی حيران شول.

(مرقوس ٦: ٤٧- ٥١ )

# دَ کوڼ او دَ چاړا سړی روغول؟

نو خلقو هغهٔ له یو کوڼ سړے راوستو چه هم چاړا وو او سوال یی ورته وکړو چه په هغهٔ خپل لاس کیږدی. هغهٔ هغه سړے د خلقو نه یو خوا ته بوتلو، خپلی گوتی یی د هغهٔ په غوږونو کښی کیښوی، لاړی یی ور تو کړی او ژبه یی ور له مسحه کړه،. بیا یی آسمان ته وکتل او آسویلی یی وکړو او هغهٔ ته یی ووئیل " افتح "یعنی پرانستے شه. د دِ سره د هغهٔ غوږونه خلاص شول او سمدستی یی ژبه گویا شوه.

د هغوی د تعجب څهٔ حد نهٔ وو. هغوی ووئیل چه"دهٔ خو هر څهٔ سم کړی دی، څهٔ چه هغه کوی ډیر یی ښهٔ کوی، تر دِ چه هغه کوڼ له غوږونه او چاړاگانو ته ژبی ورکوی."

(مرقوس ۷: ۳۲ – ۳۵ ، ۳۷)

# د یو ړوند سړی بینا کول؟

هغوئ بیت صیدا ته ورسیدل. هلته خلقو عیسیٰ له یو ړوند سړے راوستو او سوال یی وکړو چه په هغهٔ لاس ولګوی. هغهٔ ړوند سړے د لاسه ونیوو او د کلی نه یی بهر بوتلو. بیا یی د هغه په سترګو لا ړی پوری کړی او خپل لاس یی پری ولګوو او تپوس یی وکړو چه " څهٔ درته ښکاری که نه؟ "

د سړی سترګی بینا شوی او وی ووئیل ، " زه سړی وینم لکه د ونو په شان، خو دا ګرځی. "

عیسیٰ د هغهٔ په سترګو بیا لاس کیښودو " او هغه سړی په ځیر ورته وکتل، " نو هغه جک جوړ شو او هر شے ورته صفا ښکاره شو.

(مرقوس ۸: ۲۲- ۲۵)

# پنځه زره خلق مړول؟

**یو شاګرد ووئیل: " دلته یو هلک دے. د هغه سره د اوربشو پنځه ډوډی او دوه کبان شته، خو هغه به د دِ دومره خلقو دپاره څه وی؟ "**

**عیسیٰ مسیح وفرمائیل: " دا خلق کښینوئ." هلته ښهٔ ډیر واښهٔ وو، نو سړی چه خوا او شا پنځه زره وو، کښیناستل. بیا عیسیٰ ډوډی واخیستی ، شکر یی وکړو او هغه یی په هغو ناستو خلقو وویشلی او هم دغه رنګ عمل یی د کبانو سره وکړو او هغوی په مړه ګیډه وخوړل. کله چه ټولو ښهٔ په مړه خیټه خوراک وکړو نو هغهٔ خپلو مریدانو ته ووئیل: " دا پاتی شوی ټکړی را ټولی کړئ د دِ دپاره چه هیڅ هم درنه ضائع نهٔ شی." هغوی داسی وکړل او د هغه پنځو ډوډو د خوړلو نه پس دومره ټکړی پاتی شوی چه دولس ټوکرئ تری ډکی شوی.کله چه خلقو د عیسیٰ دا معجزه ولیده نو دا خبره خوره شوه چه په ریښتیا دا به هم هغه نبی وی د کوم د راتلو زیری چه شوے وو. (یوحنا ٦: ٩- ١٤)**

# د ناپاک روح نیولے سړے؟

په دغه وخت په عبادت خانه کښې یو سړے وو چه ناپاک روح نیولے وو. هغهٔ چغې کړې، " اے عیسیٰ ناصری! تهٔ زمونږ نه څهٔ غواړې؟ تهٔ زمونږ په بربادۍ پسې راغلے یې څه؟ زهٔ دِ پیژنم چه تهٔ څوک یې، تهٔ د خدای قدوس یې. "

عیسیٰ هغه ورټلو او ورته یې ووئیل چه : " چپ شه او د دهٔ نه را وزه. "

او ناپاک روح هغه سړے ډیر په عذاب کړو او په چغه تری نه راووتو. هغوی ټول حق حیران شول او د یو بل نه یې تپوس وکړو چه "دا لا څهٔ دی؟ دا خو یو نوے تعلیم دے! هغه په اِختیار سره خبرې کوی او چه حکم کوی نو ناپاک روحونه هم د هغهٔ حکم منی."

(مرقوس ۱: ۲۳- ۲۷)

# د یو نا پیژندګلو په باره کښی په هر څۀ پوهیدل؟

دا د غرمی وخت وو چه عیسیٰ په سفر ستړے شوے وو او هغه د کوهی سره کښیناستو.په دی مینځ کښی یوه سامری ښځه اوبو وړلو ته راغله. عیسیٰ هغی ته ووئیل چه : " ما له اوبۀ راکړه." بیا عیسیٰ هغی ته ووئیل " کور ته لاړه شه، خاوند د وبله او بیا راشه. " هغی جواب ورکړو چه " زما خاوند نشته. " عیسیٰ مسیح وفرمائیل، " ته دا صحیح وایی چه ستا خاوند نشته، سره د دِ چه تا پنځه میړونه کړی وو او اوس چه د کوم سړی سره اوسی هغه ستا خاوند نۀ دے."

**ښځی خپل منګے کیښودو او ښار ته لاړه او هلته یی خلقو ته ووی چه " راشئ یو سړے ووینئ چه ما ته یی هر څه چه می کړی دی ټول یی ووئیل. کیدے شی چه دا مسیح وی؟" د هغه ښار ډیر سامریان د هغی ښځی په دی ګواهئ راغلل چه ما کله هم چه څهٔ کړی دی هغه ټول یی ما ته ووئیل، او په عیسیٰ مسیح یی ایمان راوړلو.**

(**یوحنا** ٤: ٦- ٧ ، ١٦- ١٨ ، ٢٨- ٢٩ ، ٣٩)

# د یو شل سړی روغول؟

نو یو شل سړے څلورو کسانو راپورته کړے وو او هغهٔ ته یې راوړو. خو د ګڼې له کبله یې هغهٔ ته نزدې نهٔ کړے شو، نو هغوی د کوټې چت په هغه ځای کښې سورے کړو چیرته چه عیسیٰ وو او په هغه سوری کښې یې هغه شل په بانګئ کښې د هغهٔ مخې ته ور ښکته کړو. کله چه عیسیٰ د هغوی دا عقیده ولیده نو هغه شل سړی ته یې ووئیل، ” زما زویه ! ستا ګناهونه معاف شول. “

هلته په دغه موقعه یو څو د شرعې عالمان ناست وو، هغوی د ځان سره ووئیل چه، ” دا سړی داسې خبرې ولې کوی؟ دا خو کُفر دے! د خدای نه بغیر هم لا څوک د چا ګناهونه بخښلی شی څهٔ؟ “

سمدستی عیسیٰ پوهه شو چه دوئ په زړهٔ کښې څهٔ خیال کوی او هغوی ته یې ووئیل چه " تا سو داسې خیالونه په زړهٔ کښې ولې راولئ؟ آیا دا خبره آسانه ده چه زه دی شل سړی ته ووایم چه ستا ګناهونه معاف شول، او کهٔ دا ووایم چه پاڅه خپل کټ واخله او روان شه؟ خو ستاسو د پوهې د پاره چه ابن آدم هم په مزکه باندی د ګناهونو د معاف کولو اِختیار لری. " هغهٔ شل سړی ته مخ راواړاولو او ورته یې ووئیل، " زهٔ تاته وایم، پاڅه! خپل کټ واخله او کورته لاړ شه. "

او هغه پاڅیدو سمدستی یې خپل کټ واخستو او د ټولو په مخکښې روان شو. دغه شان هغه ټول حیران پاتې شول او د خدای ثنا یې ووئیله. هغوی ووئیل چه " داسې کار خو مونږ چیری هم نهٔ وو لیدلے. "

(مرقوس ۲: ۳- ۱۲)

# د عیسیٰ مسیح بیا ژوندی کیدل؟

**ناڅاپه یوه سخته زلزله راغله، د آسمان نه د رب یوه فرښته راکوزه شوه، کاڼی له راغله او هغه یی ورغړولو او په خپله پری کښیناسته. د هغهٔ مخ د آسمان د بریښنا په شان ځلیدو او جامی یی لکه د واؤری سپینی وی. څوکیداران یی په لیدو د ویری نه ورپیدل او لکه د مړو پریوتل.**

**فرښتی بیا ښځو ته ووئیل چه " تاسو د هیڅ نه مهٔ ویریږی، ماته پته ده چه تاسو عیسیٰ ګورئ څوک چه په سولئ شوے وو. هغه دلته نشته، هغه بیا پورته کړے شوے دے لکه چه هغهٔ وئیلی وو. راشئ، هغه ځائ وګورئ چیرته چه هغه پروت وو. نو بیا زر لاړی شئ او د هغهٔ مُریدان خبر کړئ چه هغه له مړو نه پاڅولے شوے دے او ستاسو نه وړومبے ګلیل ته روان دے، تاسو به یی هلته ووینی. ما تاسو ته دغسی وئیلی دی. "**

(متی ۲۸: ۲- ۷)

# مونږ له نوے ژوندون راکول؟

**عیسیٰ مسیح وفرمائیل: " ریښتیا ریښتیا درته وایم، تر څو چه سړے بیا پیدا نۀ شی هغه د خدای بادشاهی لیدلے نۀ شی. " چه د انسان نه پیداکیږی هغه جسم دے، خو چه د روح القدس نه پیداکیږی هغه روح دے. نو چه زۀ تاسو ته دا وایم چه تاسو له بیا پیدا کیدل په کار دی نو په دِ حیرانیږئ مه. هوا دیخوا اخوا الوزی. ته د دِ آواز خو اوری خو دا درته نه معلومیږی چه دا د کومی رائحی او چیرته ځی. دغه حال د هر هغه چا دے څوک چه د روح القدس نه پیداشوی دی."**

(**یوحنا** ۳: ۳ ، ۶- ۸)

# نور څوک داسی کولے شی؟ نه! هیڅوک هم نه.

# خو صرف عیسیٰ مسیح!

**او د هغهٔ مینه مونږ ته په دی شان ښکاره شوه چه هغه دِ دنیا ته خپل یک یو زوی د دِ د پاره راولیږلو چه مونږ د هغهٔ په وسیله ژوندون ولرو. مینه په دِ کښی نهٔ ده چه مونږ له خدای سره مینه وکړله بلکه په دِ کښی ده چه هغهٔ مونږ سره مینه وکړله او زمونږ د ګناهونو د کفاری د پاره یی خپل زوی راولیږلو.**

(**یوحنا** ٤: ٩- ١٠)

**عیسیٰ مسیح وفرمائیل: ” دا تل عُمری ژوندن دےچه تا وپیژنی چه تهٔ یواځی ریښتینی خدای یی او عیسیٰ مسیح چه تا را استولے دے“.**

(**یوحنا** ١٧: ٣)

# نور پوهیدل غواړی ؟

**د مقدس کتاب مطالعه وکړئ. نوی عهدنامه یعنی انجیل شریف به د عیسیٰ مسیح په حقله تاسو ته ډیر څۀ وښائی او دا چه څنګه هغه ستاسو ژوند په بنیادی طور بدلولے شی.**

SGM International

Pashto (ẂEC), 2004, 3. 5 m